توسط آرورا و، المبا، یوناما

# ملل متحد و صلح

## حفظ صلح و امنیت

با اعزام ۶۳ ماموریت حفظ صلح و ناظر طی ۶۰ سال گذشته به نقاط جنگ زده، ملل متحد توانسته تا صلح را برگرداند و خیلی از کشور ها اجازه آنرا پیدا کنند تا خود را از کشمکش ها رهایی بخشند.

حالا ۱۷ ماموریت حفظ صلح در سراسر جهان حضور دارد که توسط ۸۸،۵۰۰ مرد و زن دلیر از ۱۱۹ کشور به پیش برده میشوند و جای میروند که دیگران نمیتوانند و یا نمیخواهند بروند.

## ایجاد صلح:

از سال های ۱۹۹۰، خیلی از کشمکش ها یا با میانجیگری ملل متحد و یا اقدامات طرف های سوم که با حمایت ملل متحد فعالیت دارند، به پایان رسیده اند.

لست آن شامل کشور های سلوادور، گواتیملا، کولمبیا، موزمبیق، افغانستان، سیرالیون، بورندی و کشمکش شمال و جنوب در سودان میاشند.

محققین امتیاز آنرا به فعالیت های ایجاد صلح، حفظ صلح و جلوگیری از جنگ به مثابه یک عامل عمده در عقب ۴۰ درصد کاهش جنگ در سراسر جهان به ملل متحد میدهند. دیپلماسی پیشگیرانه و سایر اقدامات پیشگیرانه ملل متحد خیلی از این کشمکش های بالقوه را خنثی نموده اند.

برعلاوه، ملل متحد در ساحات که به اوضاع بعد از جنگ رسیدگی مینماید ماموریت دارد و تدابیر ایجاد صلح را به پیش میبرد.

حین راه اندازی کمپاین پیام کتبی روز جهانی صلح در نیویارک بتاریخ ۱۹ سپتمبر ۲۰۰۸، بانکی مون سرمنشی ملل متحد در پیام کتبی اش نوشت، "بمناسبت ۲۱ سپتمبر روز جهانی صلح، از همه رهبران جهان و مردم سراسر جهان میخواهم تا به نیروهای ضد جنگ، فقر و گرسنگی و به آنهائیکه خواهان حقوق بشری برای همه اند بپیوندند."

طی دوسال گذشته توجه جهانی به روز صلح افغانستان از بازدید فلم ساز و بنیان گذار سازمان کمپاین کننده یک روز صلح، جیریمی گیلی، بهره مند گردیده است.

فلم وی "روز بعد از صلح"، که در سال ۲۰۰۸ در جشنواره فلمهای کتز افتتاح و سال گذشته در افغانستان به نمایش گذاشته شد، تلاشهای آقای گیلی را جهت برسمیت شناختن ۲۱ سپتمبر بعنوان روز آتش بس جهانی و عدم خشونت از سوی ملل متحد نشان میدهد.

طی دو سال گذشته آقای گیلی را جود لا سفیر یک روز صلح و هنرپیشه سینما در سفر اش به افغانستان همراهی مینمود.

جود لا که در یک نشست خبری در کابل بتاریخ اول سپتمبر ۲۰۰۸ در مورد روز صلح صحبت میکرد گفت، "در نهایت پیام ما به شما اینست: "لطفاً این روز را تجلیل نمائید. اکنون نیاز بزرگتر از هر زمان دیگر وجود دارد." اگر شما کاری را سال قبل انجام دادید، همان کار را دوباره انجام دهید. درصورتیکه شما از طریق این فراخوان برای عمل در مورد روز صلح بتاریخ ۲۱ سپتمبر میاموزید، پس لطفاً در مورد طریقه ایکه میتوانید خود را شامل آن سازید فکر کنید، این میتواند بطور ساده با گفتن متاسفم صورت گیرد. و همان تعهد را نمائید."

آقای گیلی افزود: "لطفاً همه توان تانرا بخرج دهید تا از ۲۱ سپتمبر روز صلح تجلیل بعمل آورید. با مساعی مشترک، یک روز صلح تأمین خواهد شد."

امسال آقای گیلی در نظر دارد تا فلم اش "روز بعد از صلح" را در تمام ۱۹۲ کشور عضو ملل متحد بتاریخ ۲۱ سپتمبر به نمایش بگذارد.

روز جهانی صلح از سوی مجمع عمومی ملل متحد در سال ۱۹۸۱ بخاطر "یادبود و تحکیم آرمان های صلح در بین و میان همه کشور ها و مردم" ایجاد شد.

در سال ۲۰۰۱، یک قطعنامه جدید ۲۱ سپتمبر را بحیث تاریخ دقیق تجلیل از این روز تعین نمود.

قطعنامه اعلام میدارد که "از این ببعد از روز جهانی صلح بعنوان روز آتش بس جهانی و عدم خشونت تجلیل بعمل آمده و یک دعوتی برای همه کشور ها و مردم است تا توقف عملیات خصمانه در جریان این روز را رعایت نمایند."

قطعنامه در پایان از "تمام کشورهای عضو، سازمانهای سیستم ملل متحد، سازمانهای منطقوی و غیردولتی و افراد دعوت بعمل میاورد تا از روز جهانی صلح به طریقه مناسب، منجمله از طریق تعلیم و آگاهی دهی عامه یادبود بعمل آورده و با ملل متحد در راستای ایجاد یک آتش بس جهانی همکاری نمایند."



رئیس جمهور کرزی اعلان کرد، "من به تمام گروپهای مسلح در افغانستان توصیه مینمایم تا یک گلوله را هم آتش ننمایند، مگراینکه یا تا زمانیکه بالای شان حمله صورت نگیرد و از نیروهای خارجی هم میخواهم تا بخاطر احترام به این روز عظیم چنین کار را عملی نمایند."

در اعلامیه نیروهای بین المللی کمک به امنیت (آیساف) چنین آمده بود: "به تعقیب اعلامیه رئیس جمهور کرزی که به اردوی ملی افغانستان دستور داده بود تا بخاطر احترام به روز صلح یوناما از عملیات تهاجمی در برابر شورشیان خودداری نمایند، جنرال دیوید مکرنن قوماندان عمومی آیساف نیز به تمام نیروهای آیساف در افغانستان دستور داده است تا عین کار نمایند. آیساف تحت ماموریت ملل متحد در حمایت از حکومت افغانستان کار نموده تا صلح و ثبات را در افغانستان و برای مردم افغانستان تامین نماید. در حمایت از روز صلح یوناما، نیروهای آیساف از نیمه شب شنبه مورخ ۲۰ الی نیمه شب مورخ ۲۱ سپتمبر ۲۰۰۸ به عملیات تهاجمی متوصل نخواهد شد."

و در اعلامیه طالبان چنین گفته شده بود: "درصورتیکه ملل متحد، ناتو و متحدین شان روز صلح را صادقانه رعایت مینمایند و یک متارکه موقت جنگ را بدون خیانت و نیرنگ اعلان میدارند، امارت اسلامی افغانستان به مجاهدین خویش دستور خواهد داد تا در روز صلح مواضع دفاعی را اختیار نمایند."

برای کمپاین روز صلح سال ۲۰۰۹ در افغانستان، دفتر هیئت معاونت ملل متحد در افغانستان (یوناما) یکبار دیگر از همه دفاتر نماینده گی ملل متحد، سازمانهای غیردولتی، دوایر دولتی، جامعه مدنی، رسانه ها، تاجران و از تمام کشور تقاضا مینماید تا در فراخواندن صلح همکاری نمایند.

هدف طی صد روز آینده اینست که یک سلسله رویداد ها و فعالیت ها در سرتاسر کشور راه اندازی گردد تا تحرک همه کس برای فراخواندن به صلح بسیج شود.

در سال ۲۰۰۸، دفاتر نماینده گی ملل متحد توانستند تا "دهلیزهای به اصطلاح صلح" را باز و فرصت ورود را برای واکسیناتوران پولیو یا فلج اطفال و حمل مواد غذائی در ناامن ترین بخش های کشور بدهد.

تاجران افغانستان با شعار "همراه با صلح ما میتوانیم اقتصاد افغانستان را بسازیم" خواهان صلح گردیدند.

قهرمانان ورزش از جوانان سراسر کشور خواستند تا به کمپاین صلح بپیوندند و کارتونست های پیشتاز افغان یک کمیسیون ویژه نقاشی تابلو های صلح را تشکیل داده که تابلو های آنان در ختم روز بیست و یکم کمپاین در حضور رسانه ها به نمایش گذاشته شد.





# شما برای صلح چی میکنید؟

کمپاین امسال روز صلح در افغانستان با فراخوانی یک روز آتش بس و عدم خشونت از سوی ملل متحد انتظار میرود تا در هر صورت بزرگترین کمپاین باشد.

در افغانستان، در دوسال گذشته از روز صلح با راه اندازی کمپاین وسیع بسیج ساختن مردم جهت فراخواندن به صلح تحت شعار "شما برای صلح چی میکنید" بطور گسترده تجلیل بعمل آمد.

در روز صلح سال ۲۰۰۸ در افغانستان، دیپارتمنت مصئونیت و امنیت ملل متحد که رویداد های امنیتی را نظارت میکند، ۷۰ درصد کاهش در رویداد های خشونت بار در همان روز را ثبت نمود.

در یک اعلامیه ای که از سوی دفتر هیئت معاونت ملل متحد در افغانستان (یوناما) بمناسبت همان روز منتشر گردید چنین تذکر رفته بود: "روز یکشنبه تفنگ ها درسرتاسر بسیاری ساحات افغانستان خاموش بودند، چونکه ده ها هزار سرباز نظامی ملی و بین المللی و طالبان در حمایت از بزرگترین تلاش روز جهانی صلح که افغانستان شاهد آن بوده است از عملیات تهاجمی نظامی دست برداشتند."

آقای کای آیده نماینده خاص سرمنشی ملل متحد در اعلامیه خویش پاسخ را "قابل توجه" توصیف نموده و از افغانها و شرکای بین المللی خواست تا در مبدل ساختن صلح پایدار به یک هدف مشترک باهم یکجا شوند.



وی گفت، "رویداد های امروز نشان میدهد که تقاضای وسیع برای صلح در افغانستان وجود دارد. دریچه ای برای صلح باز گردیده است که از این طریق مردم افغانستان صدای شانرا به دیگران میرسانند."

پس از روز صلح، آقای آیده طی یک گزارش دهی منظم به شورای امنیت ملل متحد بتاریخ ۱۴ اکتوبر ۲۰۰۸ گفت، "در روز جهانی صلح، بتاریخ ۲۱ سپتمبر، عملیات خصمانه، منجمله از سوی طالبان به دنبال درخواستی که از سوی ملل متحد صورت گرفت تقریباً متوقف شده بود. این به ما فرصت داد تا به تعداد ۱,۶ ملیون طفل را در برابر مرض پولیو یا فلج اطفال واکسین نمائیم که یک دستاورد عمده بشمار میرود."

سال ۲۰۰۹ توأم با افزایش حملات شورشی و چالش برگزاری انتخابات ریاست جمهوری و شورای ولایتی بتاریخ ۲۰ ماه آگست یکی از دشوارترین سال ها از زمان سقوط طالبان در سال ۲۰۰۱ بدینسو برای افغانستان بشمار میرود.

آقای بان کی مون سرمنشی ملل متحد حین بازدید اش از افغانستان در ماه جنوری سال ۲۰۰۹ در یک نشست مشترک خبری با رئیس جمهور کرزی گفت، "این سال از بسیاری لحاظ یک سال خیلی مهم و حساس برای مردم و حکومت افغانستان در رسیده گی به چالش های امنیتی و همچنان ایجاد دموکراسی، انکشاف و سعادت بیشتر همراه با مردم افغانستان خواهد بود."

سرمنشی ملل متحد عزم اش را مبنی براینکه "افغانستان از دموکراسی، امنیت و انکشاف کامل برخوردار گردد،" ابراز نموده و افزود "واضح است که افغانستان در سال ۲۰۰۹ پیوسته به چالشها مواجه خواهد گردید، اما فکر میکنم که ما به آن مقابله کرده میتوانیم."

کمپاین روز صلح سال گذشته در افغانستان با اعلامیه ها از سوی رئیس جمهور کرزی، قوماندان نیروهای ناتو و طالبان تقویت یافت.

# گفته های کای آیده، نماینده خاص سر منشی ملل متحد در مورد روز صلح




"رویداد های امروز خواست بزرگ را که برای صلح در افغانستان وجود دارد، نشان میدهد. یک دریچه برای صلح گشوده شده، که از آن طریق مردم افغانستان صدای فرد را به دیگران میرسانند."

(اظهارات نماینده خاص سر منشی ملل متحد آقای کای آیده به مناسبت روز صلح ۲۰۰۸)

"در ۲۱ سپتمبر روز بین المللی صلح، به تعقیب درخواست ملل متحد خصومت ها به شمول طالبان تقریباً توقف داده شد. این کار ما را اجازه داد تا ۱,۶ میلیون اطفال را بر ضد پولیو که یک دست آورد بزرگ است واکسین نماییم."

(اظهارات مختصر به شورای امنیت ملل متحد ۱۴ اکتوبر ۲۰۰۸)

"هیچ داعیه اصیل نسبت به کار برای صلح وجود ندارد. ما همه میدانیم که این صدای وحشتناک سلاح نیست که صلح را به ارمغان میآورد. این تنها صدای آرام گفتگو و دیالوگ است که صلح را بر قرار مینماید. ما به یک روند صلح نیاز داریم که همه بخش های جامعه افغانی در آن شامل باشد."

ما باید خود را برای صلح بسیج نماییم. سپتمبر گذشته، ملل متحد یک روز صلح را تنظیم نمود که با صد ها رویداد صلح در سراسر کشور تجلیل گردید و این رویداد ها به ما نشان داد که مردم چی میخواهند.

صلح نمیتواند از خارج کشور تحمیل گردد. این باید در داخل کشور ایجاد گردد. این باید یک پروسه باشد که توسط خود افغان ها بوجود آید و توسط آنها به پیش برده شود. ما میتوانیم شما، مردم و رهبران تانرا حمایت نماییم. من برای آن حمایت خود را وقف نموده ام. و این بخشی از ماموریت ملل متحد است.

اظهارات کای آیده نماینده خاص سر منشی ملل متحد در افغانستان در جرگه امن افغانستان

(۱۸ جون ۲۰۰۹)



هغه نظریات چې د پخواني ډیپلومات او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي لخضر ابراهیمي څرګنده کړي ده او په دې افسوس کوي چې ولې یې په ۲۰۰۲ - ۲۰۰۳ کلونو کې د طالبانو سره خبرې نه دي کړي، چې دا د نړیوالو رسنیو د خپرونو غټ ټکی دي.

خو دا جوته ده چې طالبان د دولت ضد عناصرو ترمنځ یوه برخه ده او دا چې اپوزیسیون یو ډول ګروپونه نه دي. نو ځکه ملګرو ملتونو دا څرګنده کړې ده چې کله د پخلاینې پروسه د سره پیل کیږي نو په کا رده چې هغه عام شموله وي.

یو خپلواک سیاسي څیړونکی او د افغانستان په اړه د کتاب مؤلف توماس رټنګ په خپلو وروستنیو لیکنو کې ویلې دي چې ملګري ملتونه باید په هیواد کې د پخلاینې د هلو ځلو مشري وکړي. که څه هم ملګرو ملتونو دا څرګنده کړې ده چې دغې پروسې مشرتوب باید افغاني وي.

د "مذاکرو" بنه سهولت بخښونکي ملګري ملتونه کیدای شي چې د اسلامي هیوادونو په مرسته چې د دې ګروپ غړیتوب ولري او یا د اسلامي کنفرانس د سازمان په (او آی سي) مرسته کار وکړي. روټینګ په خپله خپرونه کې: د افغاني شورش بعدونه: لاملونه، "د مذاکرو" لپاره برخه وال او روش، ویلی دی چې د افغانستان د تحلیل ګرانو د شبکې له خوا د ۲۰۰۹ کال په جولای کې خپره شوه.

روټینګ ویلی دی چې دغه چتر ځینې نوی ګامونه اوچت کړي، لومړی له "مذاکراتو" څخه مخکې د افغانانو ترمنځ د خبرو میکانیزم چې هم د ټولو اړوندو سیاسي او اجتماعي برخه والوګډون تضمین کړی او هم داسې معیارونه او "نه ماتیدونکې سرحدونه" تعیین کړي چې هم په مذاکرو کې او هم د پخلاینې په پروسه کې باید مراعات شي او دویم باید د افغاني او بین المللي بې طرفه قضایي کمیټې له جوړیدو سره مرسته وکړي.

مخکې له دې پخلاینه په ملي کچه پیل شي د دې اړتیا شته چې د مرکزي حکومت او د هغه د محلي استازو په منځ کې له یوې خوا او د خلکو په منځ کې د ډیرو نا اشنا ګروپونو ترمنځ له بلې خوا باید پخلاینه وشي، د "مذاکرو" روش باید د پخلاینې په پراخه ستراتیژۍ کې شامل شي. لومړی قدم به دا وي چې د لنډ مهاله "خبرو یا مذاکرو" او د اوږد مهاله پخلاینې پروسې په منځ کې توپیر وشي.

که څه هم په تیرو وختونو کې د پخلاینې هڅې شوې دي، خو دغه هڅې بې نتیجې پاتې شوې. ډیر خلک وایي چې که د پخلاینې لپاره ربښتینې هڅې پیل شي، کیدای شي چې د بشري مرستو او پرمختیایي کومکونو په ملاتړ دغه اوسنی حالت د شخړو او نا ارامیو حالت بدل شي.

روټینګ وویل چې "پخلاینې" کوم ډول چې تر اوسه پورې تعقیب شوی و ثمر ته و نه رسید ځکه چې په ناسمو فکرونو ولاړه وه. دې په دې لیکنه کې وایي: "انفرادي کسان یا د شورشیانو ګروپونه دې ته تشویق کیږي چې له اوسنی حکومت سره یو ځای شي، دا کار دغه حقیقت په پام کی نه نیسی چې د رژیم ماهیت یو دلیل دی چې ډیر شمیر شورشیانو وسله په لاس کې اخیستې ده."

تیلاک پوخاریل، یوناما

# پخلاینه له ټاکنو وروسته ملي اجنډا ده

"پخلاینه" غالبا د "سولې" د لفظ وروسته د ۲۰۰۱ څخه په افغانستان کې تر ټولو زیات تکراریدونکی لفظ دی. د یادونې وړ ده چې ډیر اقداماتو پخلاینه تر سیورې لاندې راوستې ده- هغه څه چې د افغاني ټولنې د پراخو قشرونو او همدارنګه د نړیوالو همکارانو له خوا وربانديې موافقت شته.

هوکی د طالبانو د سقوط وروسته په تیرو اتو کلونو کې یو عمومي درك او پوهاوی شته او هغه دا چې پخلاینه باید د افغانستان د سولې د پروسې د ملا د تیر حیثیت ولري. له هغه ځایه چې هیواد د ټاکنو لپاره مصروف دی، پخلاینه او سوله باید د اګست د ۲۰ نیټې د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو د ټاکنو وروسته د ملي اجنډا په سر کې وي.

که چیرې په معقول او سم ډول د افغاني مشرتابه د لاندې پخلاینه د ټاکنو وورسته پیل کیږي نو باید دغه بهیر د ۲۰۰۹ کال سره چې د پخلاینې نړیوال کال دی سمون خوري. د خپل هغه ټینګ عزم له مخې چې د پخلاینې د پروسې د پرمخ بولو لپاره یې لري د ملګرو ملتونو د موسسې عمومي اسامبلې د ۲۰۰۶ کال په نومبر کې یو پریکړه لیك تصویب کړ چې د هغه له مخې ۲۰۰۹ کال د پخلاینې نړیوال کال وبلل شي.

د ملګرو ملتونو د ۲۰۰۶ کال د پریکړه لیك له مخې همدارنګه اړوند دولتونه نړیوال او ملي غیر دولتي سازمانونه دې ته رابلل شوی دي څو "د اغیزمن شوو او ویشل شو ټولنو" تر منځ د پخلاینې د پروسو ملاتړ وکړي او په دې توګه فرهنګي ُتعلیمي او ټولنیز پروګرامونه د پخلاینې د مفکورې د تعمیم او پراختیا لپاره پلان او پلې کړي چې په دې کې کنفرانسونه، سمینارونه او د موضوع په اړه د معلوماتو ویشل شامل دي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی کای ایده په څو څو ځله دا مسله افغانانو او نړیوالې ټولنې ته واضحه کړې ده چې که څه هم اوس ټاکنې پر ملی اجنډا کې غالبې دي خو د ټاکنو وروسته لومړیتوب باید پخلاینه او سوله وي.

کله چې د ۲۰۰۹ کال د جون په ۱۸ نېټه ښاغلی کای ایده د دیني مشرانو، د پارلمان د غړو، قبایلي سپین ږیرو او د هیواد د بیلا بیلو برخو څخه راغلو مشرانو او روښانفکرانو ته د هیواد په مرکز کابل کې وویل: ".... کله چې ټاکنې پای ته ورسیږي نو باید سوله او پخلاینه زموږ د کا رد اجنډا په سر کې وي."

نوموړی زیاته کړه: "موږ باید د سولې لپاره منسجم شو. په تیر ډسمبر کې ملګرو ملتونو د سولې یوه ورځ سازماندهی کړه. دا د ټول هیواد په کچه ولمانځل شوه. چې په کې د سولې په اړه په سلګونو غونډې جوړې وشې. د دغو غونډو څخه دا پیغام تر لاسه شو چې خلك څه غواړي."

ښاغلی کای ایده په ځانګړی ډول او د ملګرو ملتونو کورنۍ په عمومي صورت سره د ټول شموله سوله ییز بهیر او پروسې ډیر ګرم مدافعان دي. ښاغلی کای ایده چې همدارنګه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوی (یوناما) مشر دی وویل: "موږ د سولې یوې پروسې ته اړتیا لرو. دا باید یوه داسې پروسه وي چې په کې د افغاني ټولنې ټولې برخې شاملې وي. که چیرې موږ غواړو چې دغه هیواد د سولې لپا ره یو موټی کړو نو په دې صورت کې هیڅ اړخ باید د دې پروسې څخه و نه ایستل شي. که چیرې ځینې مستثنی او وایستل شي نو بیا به هیواد ویشل شوی پاتې وي."

په دې اړه یو پراخه تفاهم شته چې همدا لامل دی چې ولې هیواد په ۲۰۰۱ کې د طالبانو تر ماتې وروسته په واقعي توګه یو موټی او واحد پاتې نه شو.

د ۲۰۰۷ کال څخه را په دې خوا حامد کرزی د دولت ضد عناصرو د منځلارو ډلو سره د پخلاینې لپاره بلنې ورکوي.

د کاناډا د پارلمان ویب پاڼه د هغو ټول پوښتنو په استناد چې په ۲۰۰۷ کې د این وایرونیکز ګروپ (Environics Group) له خوا ترسره شوي وایې: "یو ستر اکثریت (۴۷ سلنه) افغانان د هیواد په کچه (۸۵ سلنه په کندهار کې چې د طالبانو ځواکمن مرکز وو) په ټینګه او یا هم یوه اندازه د دولت او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو ملاتړ کوي." ویب پاڼه زیاتوي، "اکثریت افغانان (د هیواد په کچه ۵۴ سلنه) همدارنګه د طالابانو سره د یو ایتلافي حکومت ملاتړ کوي. د دغو نتیجو پر بنسټ ډیری افغانان د طالبانو ملاتړ نه کوي، خو هغوی دا مني چې د هغوي سیاسي شمولیت به د سولې لپاره ضروري وي."

افغان آپډیټ
د سولې ورځ، ۲۰۰۹ کال، ۲۱ کېه

خو بیا هم دا سفر د افغان غره ختونکو د روزنو د پروګرام او د توریزم د جوړښت د جوړولو لپاره کوم چې د هغه وخت راهیسې د هیواد لوړ غره نوشاق ختلو ته افغانان چمتو کړي، فرصت برابر کړ.

ښاغلی لویس مونیر چا چې د افغانانو سره د دغه سفر په تنظیم کولو کې مرسته کړې وویل، موږ غوښتل چې د څلورو غره ختونکو سره مرسته وکړو څو داسې کار وکړي چې د ټول هیواد لپاره د ویاړ او هیلو یوه سرچینه وي. "موږ د غره هسکې څوکې ته د افغانانو د رسیدو هیله کوله او زموږ دا هیله په ریښتیا بدله شوه. موږ هیله من یو چې دا سفر به نورو افغانانو ته د هغوي د هیلو د ترسره کولو په برخه کې اتبار برابر کړي."

د سفر څخه وړاندې ملنګ وویل: "موږ دا کار د ټول افغانستان لپاره ترسره کوو. زه ډېر خوشاله یم چې دا فرصت لرم، او که خدای وکړي نو کامیابي به زموږ په برخه وي، افغانان او حکومت به هم وویاړي. زموږ هیله دا ده چې د هیواد بیرغ د نوشاق د غره په لوړه څوکه ورپیرږي."

ښایي ددې سفر تر ټولو لویه لاسته راوړنه په داسې یوه کال کې چې ناوړه خبرونه یې له خانه سره درلودل د هغو څلورو افغانانو د کار ویاړ دی چې غواړي د خپلو هیوادوالو سره د سولې او روښانه راتلونکې هیله شریکه کړي.

د دې لپاره چې د افغانستان د هندوکش او پامیر په غرونو کې د غره ختنې په اړه نور معلومات تر لاسه کړئ، دغه ویب پاڼې کتلای شئ: www.mountainunity.org او www.noshaq.com



ګرک علي یوه بل غره ختونکی وویل: "افغانستان په غرونو کې راګیر دي او غره ته ختل یو داسې سپورټ دی چې ټول افغانان یې په ښه توګه اجرا کولای شي. موږ هیله من یو چې پښتانه، هزاره ګان، تاجیکان، اوزبکان او د واخان خلک یو ځای د دوستانو په شان ګډ سفر وکړي او غرونو ته وخیږي. موږ د واخان خلک تر ټولو لومړی افغانان یوو."

مګر آیا د توریستی فکر په افغانستان کې یوازې یوه هیله او ارزو نه ده؟ دلته ډیر امن شته؟ یوه بل غره ختونکی عافیت خان وویل. هغه یو پخواني مجاهد و چې وسله یې اخیستې وه څو د طالبانو په وخت کې له واخان څخه دفاع وکړي.

نوموړی زیاته کړه: "موږ په واخان کې ډیر توریستان درلودل چې غوښتل یې غرونو ته وخیږي. څو ورځې وروسته له نوشاق ګورک څخه له راګرځیدو وروسته به علي د انګلستان یوه کمپنی، د وایلډ فرنټیرز، کوچنی پامیر ته رهبري کړي چې له چین سره سرحد ته نږدې دی او عافیت خان یو فرانسوی هئیت د زورکول په نامه رهبري کړ."
توریزم په یوه داسې هیواد کې چې د جګړې له امله متاثره شوی وی یو بیهوده او پوچ فعالیت ښکاره شي، خو دا د یوه ستراتیژیک هدف په حیث کارول کیږي. لومړی، دا د افغانستان په اړه د نړۍ درک له چیلنج سره مخامخ کوي. "کله چې ما خلکو ته افغانستان ته د خپل تګ په اړه وویل، هغوي ویل زه لیونی شوی یم." فرانسوي غره ختونکی ژان انیکوین وویل. نوموړی زیاته کړه "هر چا به ویل چې دا کار ډیر خطرناک دی، ته به خپل ژوند له لاسه ورکړې، خو د تاجکستان او افغانستان تر منځ د پولې څخه اوښتل لکه د فرانسې او ایتالیا تر منځ د پولې د اوښتلو په څیر وه. داسې ښکاري چې دا دوه بیل هیوادونه دي- واخان لکه څنګه چې په خبرونو کې ښکاري کټ مټ داسې نه دی چې ګواکې دا دې افغانستان وي."

دوهم، دا به د توریزم د جوړښت د جوړولو ترڅنګ د بدلون یوه ښه نمونه وی او دا به سوداګریزې تولنې ته د افغانستان د شمال ختیځ په هکله کوم چې د مینرالونو، قیمتي کاڼو او نورو طبیعي زیرمو له اړخه مشهور دی، د لیدنې په موخه اسانتیاوې او اتبار ور په برخه کړي.



په اوس حال کې دا د ځایي افغان سوداګرو لپاره د امکان څخه لرې خبره ده چې د نړیوالې سوداګری لپاره د ویش لاژم چینلونه جوړ کړي. مسافر او غره ختونکي زیاتره د مصرفي عایداتو د لومړي کچې د کارپوهانو سره ښې اړیکې لري. څکه نو توریزم نړیوال مارکیت ته د مستقیم خرڅلاو او اړیکو د جوړولو لپاره چې کیدای شي د کم ملاتړ پواسطه د صادراتو د اوږد مهاله فرصتونو د رامنځ ته کولو په برخه کې په ښه فرصتونو بدل شي برابر کړي.

ښاغلی امرالدین وایي: "افغانان کار ته اړتیا لري. که چیرې خلک کار و نه لري نو هغوي غصه کیږي نو دلته بیا ستونزې راولاړیږي. زموږ او د یو شمیر نورو خلکو لپاره چې د هیواد په غرونو کې ژوند کوي، غره ته ختل او مسافري د کارکولو یوازینی فرصت دی، نو زه ټولو هغو کسانو ته چې زه یې پیژنم دی کار ته د پیل بلنه ورکوم."

د ۲۰۰۳ کال راهیسې چې کله کارلو البرتو پینیلی نوشاق ته د غره د بیدیا سفر چې نوموړی د غوبې په نوم یاداوه تنظیم کړ، د افغانستان د شمال ختیځې سیمې د خلکو لپاره د امید یوه وړانګه شوه. په هغه وخت کې د کارلوس یوازینی موخه د افغانانو سره په ۱۹۶۰ لسیزه کې د هغوي د میلمه پالنې په اړه د پیوستون ښکاره کول وه. نوموړی بیا په هندوکش کې یو شمیر ختنې او پرمختګونه وکړل او غوښتل یې چې د پخوانی سفر له لارې هغه تولې موانع له منځه یوسې او نوشاق ته یو سوچه او ابتدایي بڼه ور په برخه کړي.

# د سولې په نوم د افغانستان تر ټولو لوړې څوکې ته ختل

ليکنه: ډيويډ جيمز

امر الدين هڅه کوله چې د خپل جاکټ تنۍ وتړي. ګوتې او لاس هم په دستکشو پوښلي وي او په بنه توګه غبرګ شوی بيرغ باندې يې لګولی وي. ملنګ چې د ده ترڅنګ ولاړ و د بيرغ يوه څنډه ونيوله څو ددې مخه ونيسي چې يخ باد هغه دده له بې حسه شويو ګوتو څخه و نه باسي.

بيا د افغانستان بيرغ په تور، سور او زرغون رنګ کې د نوشاق د غره په څوکه خلاص شو او ورپيده. دغو دوو غره ختونکو په تاريخ کې خپل نومونه وګټل چې د لومړنيو افغانانو په څير د افغانستان د جګ غره ۷۴۹۲ متره لوړې څوکې ته وختل.

خو دغه سفر يوازې غره ته ختل نه و. دغه هڅې د افغانستان په لرې ختيځ کې، چې د هندوکش د سختو غرونو په ذريعه د جنګ له سهليو څخه په امن کې پاتې شوی، د هيلو يوه نوې رڼا وه.

څلور افغان غره ختونکي د واخان د درې د قاضي له کلي څخه په دې تکل ووتل او له ځان سره يې د ښې راتلونکې اميدونه وړل. دوه غره ختونکو له سختو واورو او تيزو بادونو څخه تيريدل او د افغانستان تر ټولو لوړې څوکې ته ورسيدل چې د ټول هيواد او نړۍ لپاره د سولې يوه ډيوه بله کړي امرالدين وويل: "موږ غواړو چې خلك په دې وپوهيږي چې په افغانستان کې له طالبانو، افينو او د سرك د غاړې له بمونو څخه نور څه هم شته. موږ غواړو چې غره ختونکي بيرته افغانستان ته راوګرځي او په خپلو سترګو ووينې چې افغانان څومره ميلمه پاله خلك دي."

دغه تاريخي پيښه د جولای په ۱۹ نيټه تر سره شوه او جولای هغه مياشت هم وه چې په افغانستان کې تر ټولو وختونو زياته خونړۍ مياشت وه. اټکل کيږي چې افغانستان ۳۳ ميليونه نفوس لري. د افغانستان د کورنيو چارو د وزير په وينا يوازې له لسو تر پنځلس زرو پورې طالب جنګيالان دي. دغه شمير د عمومي نفوس له ۰,۰۵ څخه هم لاکم دی. خو دغه ۰,۰۵ برخه د نفوسو د ډيرو خلکو په شعور او زيرمو باندې واکمنی لري. څلور تنه افغان غره ختونکي د ټول نفوس يعنی ۹۹,۹۵ سلنی څخه استازيتوب کوي چې غواړي ژوند وکړي او يوې ښې راتلونکې ته سترګې په لار دی. د دې لپاره چې له جنګ څخه هاخوا د دوي غږ واوريدای شي دوي په افغانستان کې تر ټولو لوړې د غره څوکې ته وختل چې خپلو دغو هيلو ته يوه معنوي بڼه ورکړي.

ملنګ وويل: "په واخان کې خلك په ژوند کې ډيرې ستونزې لري. که ډير توريستان راشي، ښايي چې د خلکو ژوند ښه شي. موږ هيله من يو چې افغانان له ټولو ځايونو څخه په دې پيل وکړي چې د غرونو څوکو ته وخيږي او ښايي چې يوه ورځ غره ختونکي بيرته راوګرځي او د هندوکش هرې برخې ته وخيږي."



# د سولې نړیواله ورځ

د سولې نړیواله ورځ چې د سولې د لمانځنې لپاره وقف شوې ده نږدې درې لسیزې پخوا د ۱۹۸۱ کال د نومبر په ۳۰ نېټه په هغه وخت کې پیل شوه چې د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلې د خپلې ۳۶/۶۷ لمبر پرېکړې په ذریعه د سپټمبر ۳ د سولې د نړیوالې ورځ په حیث اعلان کړه.

نږدې دوه لسیزې وروسته د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلې د ۲۰۰۰ کال د نومبر په دریمه په خپل ۵۵/۱۴ لمبر پرېکړه لیك کې خپلې هڅې تایید کړې چې د سولې نړیواله ورځ د سوله بیزو هلو په تقویه، د کړکیچ په کمولو او دښمنو د ډلو تر منځ د ځانګړو سیمو ترمنځ او له منځه وړلو کې مرسته کولای شي.

یو کال وروسته د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر په ۷ د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلې په خپله یوولسمه کلنۍ غونډه کې په ۵۵/۲۸۲ لمبر پرېکړه کې د سولې په باب درې ټکي اعلان کړل:

(۱) د سولې نړیواله ورځ باید هر کال د سپټمبر په ۲۱ ولمانځل شي (دغه ورځ ټولو خلکو ته د سولې د ورځې لمانځنه ور په یادوي.)

(۲) د سولې نړیواله ورځ "باید له دې هیسې په نړیواله کچه د اوربند او نه تاوتریخوالي د ورځې په څېر ټولو ملتونو او خلکو ته د دې بلنه ورکړي چې په دې ورځ اوربند مراعات کړي"

(۳) له ټولو غړو هېوادونو، د ملګرو ملتونو د سیستم له سازمانونو او اشخاصو څخه غواړي "چې د سولې نړیواله ورځ په مناسب ډول ولمانځي، د تعلیمي پروګرامونو او د خلکو د پوهاوي په ګډون، او له ملګرو ملتونو سره د نړیوال اوربند په ټینګولو کې مرسته وکړي."

اورورا، المبارا، یوناما

## ملګري ملتونه او سوله

### د سولې او امنیت ساتنه

د تیرو ۶۰ کلونو په ترڅ کې د نړۍ ستونزمونو سیمو ته د ۶۳ سوله ساتې او کتونکو ماموریتونو له لارې، ملګرو ملتونو وکولای شوای چې آرامي ټینګه او زیاتو هیوادونو لپاره د شخړو څخه د وتلو لار برابره کړي.

اوس مهال د نړۍ په کچه نږدې ۱۷ سوله ساتې عملیات شتون لري چې د نږدې ۱۱۹ هیوادونو د څه نا څه ۸۸۵۰۰ زره ورو نارینه وو او ښځینه وو کارکوونکو له خوا څخه چې بنایې نور کسان هلته تلای نه شي یا نه غواړي ولاړ شي پرمخ وړل کیږي.

### د سولې ټینګښت

د ۱۹۹۰ کلونو راهیسې، یو زیات شمیر شخړې د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب او یا د دریم غړي له خوا چې د ملګرو ملتونو په ملاتړ عمل کړي، پای ته رسیدلې.

په دې لست کې ایلسالواډور، ګواتیمالا، نامیبیا، کمبوډیا، موزمبیق، افغانستان، سیرې لایون، بوروندي او د سوډان د شمال- جنوب شخړې شاملې دي.

د ۱۹۹۰ کلونو راهیسې د نړۍ په کچه د شخړو په راکمولو کې د نږدې ۴۰ سلنې د کمیدو ستر فاکتور د څیړنې په حواله د ملګرو ملتونو د سولې د ټینګښت او سوله ساتې او د شخړو د مخنیوي فعالیتونه په ګوته شوي. د ملګرو ملتونو مخه نیونکي ډیپلوماسي او د مخه نیونکو عملونو نورو بڼو د یو شمیر زیاتو بل القوه شخړو مخه نیولې ده.

د دې برسیره، د ملګرو ملتونو د سولې ماموریتونو په ساحو کې د شخړو څخه را وروسته وضیعت ته خواب ویلی او د سولې د ټینګښت تدبیرونه یې پیل کړي.

د ۲۰۰۸ کال د سپتمر د میاشتې په ۱۹ نېټه په نیویارك کې د نړیوالې سولې د ورځې د لنډ کتبي پیامونو د کمپاین د پیل پر مهال د ملګرو ملتونو عمومي منشي بانکی مون په خپل پیغام کې ولیکل: "د سپتمبر د میاشتې په ۲۱ یعنی د سولې نړیواله ورځ، زه د نړۍ په مشرانو او خلکو غږ کوم چې د شخړو، غریبی او لوږې او د ټولو لپاره د بشري حقونو په وړاندې د خوندیتوب پخاطر خپلې هڅې یو ځای کړي."

نړیوالې پاملرنې د تیرو دوو کلونو په ترځ کې د افغانستان د سولې د ورځې لپاره د فلم جوړونکی او د یوې ورځې سولې د کمپاین د سازمان جوړونکی جریمی ګیلی په واسطه هیواد د یو شمیر لیدنو ډګر وګرزاوه.

د نوموړی فلم، د سولې څخه وروسته ورځی تر عنوان لاندې په ۲۰۰۸ کال کې د کینز په فیستوال کې ننداری ته وړاندې شو، دا فلم تیر کال په افغانستان کې هم ننداري ته وړاندې شو، په دې فلم کې د ښاغلی ګیلی هڅې ننداري ته وړاندې کیږي څو د سپتمبرد میاشتې ۲۱ نېټه د ملګرو ملتونو له خوا د نړیوالې ډز بندي او نه تاوتریخوالی د ورځې په حیث وپیژندله شي.
د تیرو دوو کلونو راهیسې د ښاغلی ګیلی سره د یوې ورځې د سولې د ښه نیت سفیر، لوبغاړی جودلا افغانستان ته سفر کړي دي.

د ۲۰۰۸ کال سپتمبر د میاشتې په لومړی نېټه په کابل کې د سولې د ورځې د رسیدو په درشل کې یوه مطبوعاتي کنفرانس ته د وینا پر مهال ښاغلی جودلا وویل: "په پای کې زموږ بیان ستاسو لپاره دا دي چې هیله کوو دا ورځ ولمانځي. اوس د پخوا په پرتله ډیره اړتیا لیدل کیږي."

که تاسو تیر کال کوم کار سرته رسولی وی، هغه کار بیا تکرار کړئ. که چیرې تاسو د سپتمبر د میاشتې په ۲۱ نېټه د سولې د ورځې په هکله څه زده کړی وی نو بیا د یوه داسې کار په هکله فکر وکړي چې تاسو وکولای شي په هغه کې برخه واخلي، دا کیدای شی د یوی بخښنی غوښتنی په کچه ساده وی. نو دا ژمنه وکړئ.

ښاغلی ګیلی وړاندې وویل: هیله کوو ټول امکانات په کار واچوئ او د سپتمبر د میاشتې ۲۱ نېټه، د سولې د ورځی په حیث، ولمانځئ.
سږکال ښاغلی ګیلی هوډ لري چې د ملګرو ملتونو په ټولو ۱۹۲غړیو هیوادونو کې د سولې څخه وروسته د ورځې تر عنوان لاندې فلم د سپتمبر د میاشتې په ۲۱ نېټه ننداري ته وړاندې کړي.

په کال ۱۹۸۱ کې د ملګرو ملتونو د عمومی اسامبلی له خوا د ټولو هیوادونو او خلکو په د ننه او منځ کې د سولې د تصور د پیاوړتیا او یادولو په خاطر د سولې نړیواله ورځ رامنځ ته شوه.
په ۲۰۰۱ کې د یوه نوی پریکړه لیك له لارې د سپتمبر ۲۱ نېټه د دقیقی نېټی د لمانځلو د ورځې په حیث وټاکله شوه.

پریکړه لیك بیانوي، د سولې نړیواله ورځ به له دې وروسته د نړیوالې ډزبندي او نه تاوتریخوالی، په حیث ولمانځل شي او همدارنګه ټولو هیوادونو او خلکو ته بلنه ورکول کیږي چې د ورځې په اوږدو کې دښمنیو ته د پای ټکی کیږدي.

د پریکړه لیك په پای کې د ټولو غړیو هیوادونو، د ملګرو ملتونو د سیستم د سازمانونو، سیمه ییزو او نا دولتي سازمانونو او انفرادي کسانو څخه غوښتل کیږي چې په سمه توګه د سولې نړیواله ورځ، د ښوونې او روزنې او عامه پوهاوي له لارې ویادوی او د نړیوالی ډزبندی د رامنځ ته کولو په برخه کې د ملګرو ملتونو سره همکاري وکړي.

۲۰۰۹ کال د طالبانو د رژیم د رانسکوریدو راهیسې او هم د مخ پر زیاتیدونکی یاغیتوب او د ولسمشریزو او ولایتي شوراگانو د ټول ټاکنو د ترسره کولو چې تمه کیږي د اگست د میاشتې په ۲۱ نېټه به ترسره شي، د یوه ستونزمن کال په حیث کتل کیږي.

د ۲۰۰۹ کال د جنوری په میاشت کې چې کله د ملگرو ملتونو عمومي منشي د افغانستان څخه لیدنه کوله نو د یوه گډ مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې یې د افغان ولسمشر حامد کرزي سره وویل: "دا کال به په ډیرو ډگرونو لکه، د امنیتي چیلنجونو د ځوابولو او همدارنگه د بشپړې دیموکراسي، انکشاف او د افغان وگړو د سوکالي لپاره یو مهم او حیاتي کال وي"

عمومي منشي خپله اراده څرگنده کړه څو افغانستان د بشپړې دیموکراسي، امنیت او پرمختگ څخه برخمن شي وگوري، نوموړی همدارنگه اضافه کړه چې ښکاري افغانستان به په ۲۰۰۹ کال کې د زیاتو چیلنجونو سره مخ شي خو زه فکر کوم چې موږ به د هغو سره مقابله وکړو.

په افغانستان کې د تیر کال د سولې د ورځې د کمپاین ملاتړ د ولسمشر کرزی، د نړیوال امنیتي مرستندویه ځواك د ناټو د قومندان او طالبانو د بیانونو په واسطه وشو.
ولسمشر کرزی اعلان وکړ: زه په افغانستان کې ټولو پوځي ډلو ته لارښوونه کوم تر هغه وخته چې تر برید لاندې نه وي راغلي یو ډز هم و نه کړي او همدارنگه د بهرنیو ځواکونو څخه هم غوښتنه کیږي چې د سپتمبر د میاشتې په دغه ورځ د دې ورځې درناوی او عمل وکړي.

د آیساف په بیان کې راغلي: د ولسمشر کرزی د اعلان په تعقیب کوم چې د یوناما د سولې د ورځې د لمانځلو په مناسبت ده ویل شوی چې افغان ولسمشر افغان ملی پوځ ته لارښوونه کړې چې د یاغیانو په وړاندې د برید کوونکو عملیاتو د ترسره کولو څخه ډډه وکړي، د ایساف قومندان جنرال ډیوډ مکررنن هم همدارنگه په افغانستان کې د ایساف ځواکونو ته د ورته گام پورته کولو لارښوونه کړې. ایساف د ملگرو ملتونو د ماموریت لاندې د افغانستان د حکومت ملاتړ کوي څو د افغانستان او د افغان وگړو لپاره سوله او ټیکاو رامنځ ته کړي. د یوناما د سولې د ورځې څخه د ملاتړ په موخه، د ایساف ځواکونه به(۲۰۰۸) کال د سپتمبر د میاشتې د ۲۰ نېټې د نیمی شپې څخه د ۲۱ سپتمبر تر نیمې شپې پورې په برید کوونکو عملیاتو کې برخه وانه خلي.

طالبانو په یوه بیان کې ویلي: که چیرې په رښتیا سره متحده ایالات، ناتو او د هغوي پلویان د سولې ورځ په پام کی نیسی، او د کوم خیانت او چل نه پرته د موقتی ډزبندی ورځ اعلانوي، بیا به د افغانستان اسلامي أمارت خپلو مجاهدینو ته لارښوونه وکړي چې د سولې په ورځ بریدکوونکي عملیات بند کړي.

په افغانستان کې د ۲۰۰۹ کال د سولې د ورځې د کمپاین لپاره، یوناما یو وار بیا د ملگرو ملتونو د ټولو نمایندگیو، نا دولتي سازمانونو، حکومتي ریاستونو، مدنې ټولنې، ډله ییزه رسنیو، سوداگریزو ټولنو او هیوادونو څخه غوښتنه کوي چې د سولې لپاره غږ جگ کړي.

په راتلونکو ۱۰۰ ورځو کې به زموږ موخه دا وي چې  دهیواد په کچه یو لړ پیښې او فعالیتونه ترسره کړو چې د هر هغه چا غوښتنه چې  د سولې لپاره اواز جگوي تنظیم کړو.
په ۲۰۰۸ کال کې د ملگرو ملتونو نمایندگی په دې وتوانیدي چې د هیواد په یو شمیر نا امنو سیمو کې خوراکي توکو او د گوزڼ واکسین په اصطلاح د سولې سیمو/ دهلیزونو ته ورسوي.
د افغانستان د سوداگرو ټولنې د سولې لپاره، د سولې سره موږ کولای شو افغان اقتصاد جوړ کړو تر شعار لاندې خپل اواز جگ کړ.

د سپورت ستورو د هیواد په کچه د ځوانانو څخه وغوښتل څو د سولې په کمپاین کې برخه واخلي او همدارنگه مخکښه افغان کارتون کښوونکو د سولې ځانگړی انځورونه کښلې او د ډله ییزه رسنیو په وړاندې یی د سپتمبر د میاشتې په پاته ۲۱ ورځو کې خپاره کړل.



# تاسو د سولې د ورځې لپاره څه کوئ؟

تمه کیږي چې د سږ کال د سولې د ورځې کمپاین په افغانستان تر ټولوستره پیښه وي چې په هغه کې به ملګري ملتونه د اوربند او د نه تشدد غږ وکړي.
د سولې نړیواله ورځ د تیرو دوو کلونو راهیسې د خلکو د راغونډولو د یوه ستر کمپاین په لاره اچولو سره تر دې عنوان لاندې چې تاسو د سولې د ورځې لپاره څه کوئ، په پراخه کچه لمانځل شوې ده.

د ۲۰۰۸ کال د سولې په ورځ په هیواد کې د ملګرو ملتونو د ساتنې او امنیت دیپارتمنت کوم چې د امنیتي اړوندو پیښو نظارت کوي، په همدې ورځ د تاوتریخوالی په پیښو کې د نږدې ۷۰ سلینه کموالی ښودلې دی.

په افغانستان کې د سولې د ورځې په مناسبت د ملګرو ملتونو د سولې د پلاوی بیان: د یکشنبې په ورځ د هیواد د یو شمیر زیاتو سیمو په کچه په داسې حال کې چې د کورنی او نړیوالو پوځونو لس ګونو زرو سرتیرو او طالبانو خپلې وسلې په ځمکه کیښودلې او ټولو د نړیوالې سولې د ورځې د هڅو څخه د ملاتړ په موخه چې هیواد ورسره مخ دی د یرغلګرو پوځي عملیاتو څخه لاس پرسر شول.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی کای آیډه دا ځواب/غبرګون د پام وړ بللی او په ورته ډول یې د افغانانو او د هغوي د نړیوالو شریکانو څخه غوښتلی چې د دوامدارې سولې د رامنځ ته کولو لپاره له یو بل سره کار وکړي.

ننی پیښې په هیواد کې د سولې لپاره د زیاتو شته هیلو ښکارندویی کوي. د سولې لپاره یو فرصت رامنځ ته شوی، او له دې لارې د افغانستان خلك کولای شي خپل غږونه نورو ته ورسوي، نوموړی وویل: د سولې د ورځې په تعقیب ښاغلی ایډه د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر د میاشتې په ۱۴ نېټه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته په خپل منظم راپور کې وویل: "د سپتمبر د میاشتې ۲۱ نېټه، یعنی د نړیوالې سولې ورځ، د ملګرو ملتونو له خوا د یوې غوښتنې په تعقیب د طالبانو په شمول د دښمني ټول بریدونه په ټپه د دریدو غوښتنه کړی. په دې توګه موږ وکولای شوای نږدې ۱,۶ میلیونو ماشومانو ته د ګوزڼ واکسین تطبیق کړو او دا زموږ لپاره یوه ستره لاس ته راوړنه وه."



# د سولې د ورځې په ویاړ دافغانستان لپاره د ملګرو ملتونو

## د سرمنشي د ځانګړی استازی کای ایده څرګندونې



"د نن ورځې دغه پیښه دا څرګندوي چې په افغانستان کې د سولې لپاره غوښتنه ډېره زیاته ده. د سولې لپاره یوه کړکۍ پرانیستل کیږي چې د هغې د لارې د افغانستان خلك په خپله خپل غږ نورو ته واوري."
یوناما : د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړی استازی کای ایده
(د ۲۰۰۸ کال د سولې د ورځې په ویاړ اعلامیه)

"د سولې د نړیوالې ورځې په مناسبت: د سپتمبر په ۲۱ نېټه دښمني او نښتې بندیدو ته رانږدې شوې چې د طالبانو په ګډون د ملګرو ملتونو د یوې غوښتنې په تعقیب دا ترسره شوه. دی موږ ته اجازه راکړه چې د ګوزن په وړاندې ۱،۶ میلیونه ماشومان وقایه کړو او دا یوه ستره لاس ته راوړنه وه."
یوناما، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی، کای ایده
د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته د کالني راپور ورکولو پر مهال (اکتوبر ۱۴، ۲۰۰۸)

"... د دې څخه بل ښه او نیك کار نشته لکه چې سولې ته کار کول دي...
"موږ ټول په دې پوهیږو چې دا د وسلو ناوړه غږ نه دی چې هغه به سوله راوړي. دا پخپله یوازې د ډیالوګ او مذاکرې غلی غږ دی چې سوله به راوړي. موږ د سولې یوې بهیر ته اړتیا لرو چې دا به یوه پروسه وي چې په کې د افغان ټولنې ټولې برخې شاملې دي..."

"موږ باید د سولې لپاره سره منسجم شو، ملګري ملتونه د سولې یوه ورځ سازماندهي کړه. دا په ټول هیواد کې د سلګونو پیښو او غونډو په ترڅ کې ولمانځل شوه چې د سولې لپاره جوړ شوی وو، او دغو پیښو موږ ته دا په ډاګه کړه چې خلك څه غواړي ..."

"سوله د باندې څخه پر دې هیواد تحمیل او تپل کیدای نه شي. دا باید د دننه څخه راجوړه شي... دا باید افغاني جوړه شوې او د افغان مالکیت پر اساس بهیر وي. موږ کولای شو ستاسو ملاتړ وکړو، ستاسو د خلکو او مشرانو سره مرسته وکړو. زه دې ته ژمن یم چې دغه ملاتړ ترسره کړم. او دا د ملګرو ملتونو د وظیفې او دندې یوه برخه ده..."

یوناما، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی
کای ایده (۱۸ جون، ۲۰۰۹)

د سولې ورځ، ۲۰۰۹ کال، ۲۱ ګڼه

# افغان آپدیت



UNAMA

شما برای صلح چی میکنید؟

تاسو د سولې لپاره څه کوئ؟

UNAMA

د یوناما د خپرونو څخه